# د ۴ ډوله باکتریایی انتاناتو څخه مو ساتنه کوي

## د مینینګوکوکل کنجیټ A, C, Y, (MenC-ACYW) W-135 ډول واکسین



**د MenC-ACYW واکسین د نیسیریا مننژیت باکتریا د څلورو ډولونو په وړاندې ساتنه کوي، چې د مینینګوکوکل ناروغۍ لامل کیږي.**

**مننجوکوکل ناروغي** کولی شي د هغه مایع او استر د خورا شدید انتان لامل شي چې دماغ او نخاع پوښوي (مننجیتس) یا د وینې جریان د انتاناتو سبب شي.

- په هرو ۵ کسانو کې چې د مینینګوکوکل ناروغي لري یو یې د شدید انتان سبب کیږي چې د کانه کیدو، قبضیت، دماغی زیان، او د لاس یا پښې د ضایع کیدو لامل کیږي.
- په هرو لسو کسانو کې چې د میننګوکوکل ناروغي لري یو ناروغ خپل ژوند د لاسه ورکوي.

### څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي:



دا واکسین د ښوونځیو د واکسینونو د معمول پروګرام د یوې برخې په توګه د نهم ټولګي زده کونکو (۱۴-۱۵ کلن) ته وړاندې کیږي. هغه زده کونکي چې په نهم ټولګي کې د MenC-ACYW واکسین ترلاسه کولو څخه محروم پاتې شوي کولی شي د ۱۲ ټولګي تر پایه پورې یې وړیا ترلاسه کړي.

تاسو باید دا واکسین ضرور ترلاسه کړی، که تاسو د ضعیفه دفاعي سیسټم له امله د مینینګوکوکل ناروغۍ په خطرکی یاست، د مینینګوکوکل ناروغ سره په تماس کې یاست، او یا هم بعضی د کار ډولونه.



**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟** تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض یا بدي اغیزي پیداکړي وي.

**د دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** بدي اغیزی یی خورا عادي او لنډمهاله دي، لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، سټریا ، سر درد ، تبه ، د اشتها ضعیفوالی ، د زړه بدوالی یا خوا ګرزیدل، کانګې ، د معدې درد او داسې نور شامل دي. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د د پیچکاري یا ستني ځای کې د یخ لوند ټوکر څخه کار اخیستلی شو، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د acetaminophen یا ibuprofen په څیر درمل اخیستلی شو.

---

### که تاسو کومي اضافي پوښتني لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکتر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.


AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association
19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19
Financial contribution:
Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada
ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE